# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



د افغانستان انقلابی سازمان


۱۸ اگست ۲۰۱۲

## مړه دې وي یرغلګران،

## په دې شعار سره د هیواد د خپلواکۍ درې نوییمه کلیزه ولمانځو!

د ۱۲۹۸ د زمري ۲۸ مه د خپلواکۍ ورځې په توګه زموږ د هیواد په تاریخ کې ثبت شوي، هغه ورځ چې انګریز یرغلګرانو په ټیټ سر او شرموونکي ډول د دې مینې د زیارکښو پرګنو له پرله پسې مبارزو وروسته خپله ماته ومنله او په درنو تلفاتو یې زموږ خاوره خوشې کړه.

دغه نیکمرغه ورځ په داسې حال کې رارسیږي، چې د امریکي وحشي امپریالیزم په مشرۍ د لویدیځو امپریالیستانو له وحشیانه یرغل څخه چې د «القاعده» او «ترهګرۍ» ضد جګړې تر نامه لاندې تر سره شو، له لسو کالو څخه زیاته موده تیریږي. په دغه موده کې جنایت کوونکو یرغلګرانو او وطني ګوډاګیانو، زموږ د هیواد ځوریدونکو خلکو او ځوریدلو طبقاتو ته له لوږې، بدبختۍ، اجباري مهاجرتونو، بیکارۍ، فحشا، اعتیاد، سپکاوي، زورزیاتي، ځان وژنې، چاودنو او بربادۍ پرته بل څه نه دي ورکړي. له دغو نړیوالو لوټمارانو څخه باید له دې پرته تمه هم ونلرو، ځکه د هغوی ختېه په جګړې، لوټ، تالان او بربادۍ لنده شوي ده.

موږ په داسې حال کې د مړه دې وي یرغلګرانو له شعار سره د خپلواکۍ پرتمینه ورځ لمانځو چې زموږ اوسنۍ تاریخ د امپریالیستانو، ګوډاګي دولت او طالبانو له جنایت او خیانت او د پاکستان او ایران او نورو ګاونډیو ارتجاعي دولتونو له لاسوهنې سره مل دی. وروستي خپاره شوي آمار چې د ملګرو ملتونو سازمان لخوا راټول شوي، په تیرو وروستیو شپږو کلونو کې زموږ د هیواد د ځوریدلي او کړیدلي ولس د بیرحمانه وژلو یوه برخه څرګندوي چې په دردونکي توګه ګراف یې مخ په پورته روان دی. د همدې شمیرو پر بنسټ چې په هیڅ ډول زموږ په هیواد کې د زیارکښانو د وژنې واقعي شمیرې نه څرګندوي او شمیر یې په کراتو له دې ډیر دی، په ډاګه کیږي چې د یرغلګرانو او ستمګرانو جنایتونه د هر کال په تیریدو سره لازیات شوي: په ۲۰۰۷ کال کې ۶۸۴ زیارکښان وژل شوي، په ۲۰۰۸ کې ۸۱۸ تنه، په ۲۰۰۹ کې ۱۰۵۴ تنه، په ۲۰۱۰ کې ۱۲۶۷ تنه، په ۲۰۱۱ کې ۱۵۱۰ تنه او د ۲۰۱۲ کال په لومړنیو شپږو میاشتو کې ۱۱۴۵ زیارکښان وژل شوي دي؛ چې د امپریالیستانو او د هغوی د ګوډاګي دولت د جنایتکارانه او قاتلانه طبیعت څرګندونه کوي.

له دومره جنایت او وینې تویونې سره، زموږ ستم ځپلی او بیوزلی ولس له څلور میلیونه بیکارانو، د ټولنې ۸۰ سلنه بیوزلي، د اړینو روغتیایي آسانتیاو د نشتوالي له کبله د ماشومانو د اوچتې کچې مړینې، له یو نیم میلیون څخه زیات روږدي، دوه میلیونه کونډې، سلګونه زره بې سرپرسته، اقتصادي او سیاسي واکمنه مافیا، د اردو، پولیس، «ملي امنیت» او اربکیو ظلم او تیري سره د افغانستان په نوم دوزخ کې ژوند تیروي. له دې وضعیت څخه ژغورنه شوني نه ده، مګر د ملي پرله پسې مبارزې له لارې چې له انقلابي دموکراتیکې مبارزې سره مل شي.

زرګري جنګونه، د کابل د ګوډاګي دولت د مکر ژړا، له امپریالیستي هیوادونو سره د ستراتیژیکو تړونونو لاسلیک کول، د سیا او پاکستان د جاسوسي سازمان لخوا د طالبانو د ځان وژنو او چاودنو د ځنځیر سست او کلکول، زموږ په هیواد کې د ایران د آخوندي رژیم بې شرمانه او رذیلانه لاسوهنې او په ایران کې طالبانو ته د دفتر جوړول، د آی اس آی په مستقیم هدایت سره د پاکستاني پوځیانو توغندي بریدونه او د کرزي ګوډاګي رژیم مرګوني چوپتیا، د کورنې او نړیوالو کنفرانسونو تر سره کول او د کابل ګوډاګي دولت ته د میلیاردونو ډالرو چنده راټولول، دغه ټول د اوسني تیري او یلغار د تداوم لپاره د امریکا په مشرۍ د کوچنیو او سترو امپریالیستانو د ستراتیژیکو موخو د رسیدو لپاره په داسې حال کې دوام لري چې ګوډاګی دولت د امریکاییانو او انګریزانو د شوبلو د شپیلۍ لاندې د «خپلواکۍ جشن» په عوامفریبانه ډول لمانځي.

د افغانستان انقلابي سازمان کلک باور لري چې ملي ـ دموکراتیکه مبارزه او د خپلواکۍ لپاره د هیواد پر ناموس باندې د یرغلګرو ضد جګړه، د کین انقلابي ځواکونو له اړینو او جدي دندو څخه ګڼل کیږي. په مسخره اصطلاح ګانو لکه «د فیوډالیزم ضد مبارزه»، « تر ټولو بورژوایي دموکراسۍ پراختیا»، «د امپریالیستانو تر منځ له تضادونو څخه ګټه اخیستل» او د وطني تروتسکیست وزمو «په افغانستان کې د کار او پانګې تر منځ تضاد») د مسخره تیورۍ ګانو تر نامه لاندې د دې مبارزې کمرنګه کول د هیواد او زیارکښو پرګنو په وړاندې له خیانت پرته بل څه کیدای نشي.

موږ باور لرو چې د افغانستان کیڼ انقلابي غورځنګ د اوسني عمده تضاد په پام کې نیولو سره باید د مبارزې ټول اړخونه د ملي ـ دموکراتیکې مبارزې لپاره وکاروي، د وحشي یرغلګرانو تر شړلو او د واکمنو طبقو تر پرځولو پورې د ولسونو د خلاصون کاروان لارښوونه وکړي او د استعمار او استثمار له منګولو څخه د خلاصون سور بیرغ په پرله پسې، پریکنده او دوامداره مبارزې کې ورپوي، ځکه یوازې انقلابي او پرولتري ایدیولوژي د هیوادونو د خپلواکۍ تضمین کوونکې ده. زموږ د هیواد تاریخي بهیر ښیي چې د خپلواکي غوښتونکي مبارزې ثمره چې د غیرکمونیستو ځواکونو لخوا یې لارښودنه شوې وې، یوازې او یوازې واکمنو طبقو ته رسیدلې او ولسونه یې خپل پخواني آرمان ته چې د هر ډول استعمار او استثمار له جغ څخه خلاصون دی، نه دي رسولي ؛ له دې کبله د هیواد د خپلواکۍ لاسته راوړل باید د انقلابي کیڼ غورځنګ د کړنو په سر کې ځای ولري او هر ګام چې پورته کوي، باید ولسونه خپلواکۍ ته یو ګام نږدې کړي.

**مړ دې وي امپریالیزم**

**مخ په وړاندې، د سوسیالیزم په لور!**

**د افغانستان انقلابي سازمان**

**د ۱۳۹۱ د زمري ۲۸ مه**